# خپله پریشانی ښکاره

# کول څنګه دي؟

پښتو

پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# خپله پريشاني ښکاره کول څنګه دي؟[1]

دُعائے عطّار يا **الله پاکه!** څوك چې دا رِساله "**خپله پريشان ښکاره کول څنګه دي؟**" اُولوَلي يا ئې وَاورِي هغه ته د خپلې رضا د پاره په مصيبتونو باندې صبر او ډير زيات اجر عطا کړې او هغه ته په جَنَّتُ الْفِردَوس کښې د خپل خوږ نبي حضرتِ اَيُّوب عَلَيْهِ السَّلَام ګاونډ نصيب کړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قيامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زيات ما ته نزدے هغه کس وي څوک چې په ما د ټولو نه زيات دُرُود شريف وائي- (ترمذی، ج ۲ ص ۲۷، حدیث ۴۸۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خپله پريشاني ښکاره کول څنګه دي؟

**سُوال:** په صبر او برداشت کښې څه فرق دے؟ (محمد عامِر عطاري- کولمبو سري لنکا)

**جواب:** غالباً د صبر معنٰى په اُردو [او پښتو] کښې هُم دا برداشت کول دي، پاتې شو دا سوال چې خپل مصيبتونه خلقو ته بيانول" په دې کښې بعضې وخت بے صبري مخې ته راشي- كه څوک يو بزرګ يا د جُمات اِمام يا عالِمِ دِين ته خپله پريشاني ځکه بيانوي چې هغه د ده د پاره دُعا اوکړي، يا يو ډاکټر ته خپل تکليف بيانوي چې هغه د ده د بيمارۍ علاج اوکړي او [د دعا يا علاج د پاره هُم] صرف دومره

---

[1] ...دا رساله په 16 جُمادَی الْاُوْلٰی 1441ھ بمطابق 11 جنوري 2020 باندې عالي مدني مرکز فيضانِ مدينه کښې کيدونکې د مَدَني مُذاکرے تحريري ګُلدسته ده، چې د اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَّة شُعبے "ملفُوظاتِ امير اهلِ سُنّت مُرَتَّب کړې ده- (شُعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سُنّت)

تڪليف بيانوي ځومره چې ضرورت دے نو دا به په بے صبرئ کښې نه راځي او ثواب به ئې هُم نه ضائع کيږي- بعضې خلق ډاکټر ته خپله بيماري ښودلو وخت کښې ډېره مبالغه کوي- که تبه ئې وي نو وائي "سخته تبه مې ده" که په څه ځائے ئې درد وي نو وائي "سخت درد دے راباندې" که سخت وي نو سخت وئيلو کښې باک نشته، خو بعضې وخت داسې نه وي- پښتو به خلقو وئيلې "دواخانے ته ځم، يا مور دواخانے ته بوځم-" اوس [که يو کلينک ته روان وي نو هُم] وائي "مور هسپتال ته بوځم" ځکه چې د هسپتال نوم دروند دے نو د همدردئ حاصلولو د پاره دا لفظ اِستعمالېږي، حالانکه د دې په ځائے کلينک هُم وئيلے شي- د هسپتال نوم اوريدلو باندې بنده لږ حيران شان شي، ځکه پڪار ده چې که څوک هسپتال ته هُم روان وي نو وضاحت دِ کوي چې "صرف چيک اَپ د پاره هسپتال ته ځم-" يعني خپل مصيبت ضرورتاً بيانولے شئ، خو زيات او مُبالغے سره بيانول نه دي پڪار-

بعضې خلق هسې نارمل وي، خو چې بل کس اُووِيني نو د بيمار په شان خُله به جوړه کړي او د بيمارئ والا انداز به اختيار کړي- زه يو ځائے ته د چا د تپوس د پاره لاړم، هغه ښه سم ناست وو خو چې زه ئې اوليدم نو فوراً خملاستو او څادر ئې واغوستو، خو دا د هغه نصيب چې ما ليدلے وو- بهرحال ما هُم هغه ته څه اُو نه وئيل چې "هسې ډرامه مه کوه" ما وئيل چې شرمنده نه شي، خو ښکاره خبره ده چې دا هسې ډرامه کول وو چې څوک تپوس له راشي نو هغه ته ځان ناجوړه ناجوړه ښکاره کړه چې هغه ښه ډېره همدردي اوکړي- څوک چې ځان هسې د دروغو بيمار ښکاره کړي د هغه د پاره په حديث شريف کښې دا وعِيد موجود دے چې هغه څنګه ځان ښکاره کوي، چرته هُم هغسې نه شي- (فردوس الاخبار، ج۲ ص۴۲۱ حديث: ۶۲۳۴)

ځکه پڪار دا ده چې که د چا په مخکښې خپل تڪليف ظاهرول غواړي نو صرف دومره دِ ظاهروي ځومره چې ضرورت وي-

نن صبا خلق د هرې بيمارئ بلکه خپلې معيُوب [پرده کښې ساتلو والا] بيمارئ هُم ښکاره کوي- حالانکه يو دَور هغه وو چې که د چا په خيټه کښې به درد وو نو هُم چا ته وئيلو کښې به ئې شرم محسوسولو- خو ضرورتاً ډاکټر ته وئيلے شي، خو هغه ته وئيلو کښې هُم د ښو الفاظو انتخاب کول پڪار دي چې "لږه د خيټې مسئله مې ده" حضرت اِمام محمّد بِن محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دا واقعه نقل کړي ده چې د اَميرُ

الْمُؤمِنِين حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبدُ العزیز رَحْمَةُاللهِعَلَيه په ترخ کښې دانه راختلې وې- چا ترينه د ازميښت د پاره تپوس اوکړو چې دوئي څه جواب راکوي چې، څه دربانديې شوي دي؟ هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيه اُوفرمائيل: د متې دننه طرف ته مي دانه راختلې ده- (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج۳ص۱۵۱مفهوماً) يعني هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيه د ترخ د نوم اخستلو نه هُم شرميدلو- که په مونږ کښې څوک وے نو کيدے شي چې لاس ئې پورته کړے وے او ترخ ئې وربښودلے وے- زمونږ خو چې په کوم کوم ځائے تکليف وي عام طور خلق د هغې پوره نقشه بيانوي- الله پاک دِ مونږ ټولو ته د ”عُثمان حيادار“ په خاطر د شرم و حياء دولت رانصيب کړي- اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دومره حيادار وو چې که په بنده کمره کښې به ئې هُم جامے بدلوَلې نو د شرمه به راټول شولو- (مُسْنَد اِمام اَحمَد، ج۱ص۱۶۰حديث۵۴۳مفهوماً)

## بے ضرورته خپل تکليف مه ښکاره کوئ

**سُوال:** بعضې وخت انسان د يو چا په مخکښې ښے ډيرې کِيلے فرياد کوي نو مخامخ کس ورته په نرمۍ سره وائي ”صبر کوئ جي!“ هغه په جواب کښې وائي ”بس جي، صبر خو کوو-“ د داسې خلقو په باره کښې تاسو څه وائې؟ (رُکنِ شُوریٰ ابو الحسَن حاجی محمد اَمِين عَطّاری)

**جواب:** په حديث شريف کښې دي چې ”صبر خو په ورومبي غم کښې وي-“ (بُخاری ج۱ص۴۳۴حديث:۱۲۸۳) وروسته خو بيا هسې هُم صبر پيدا شي- ځکه چې کله هُم بنده ته تکليف پيښ شي نو څه دِ نه وائي، بس خاموشه دِ شي او د خپل بدن د اشارو نه دِ هُم داسې نه ښکاره کوي چې مخامخ کس ترينه دا مطلب واخلي چې ده ته څه تکليف دے، ځکه چې که بنده چپ پاتې شي خو خُله ورانه کړي يا څه فرياد اوکړي نو ښکاره خبره ده چې مخامخ کس به ترينه تپوس کوي چې ولې څه اوشو؟ او بيا دِ وائي چې ما خو ورته نه دي وئيلي پخپله ئې را نه تپوس اوکړو نو هله مې ورته اُووئيل، حالانکه په خپل بدن يا مخ ئې بورډ لګولے وي چې زما نه تپوس اوکړئ چې ما ته څه تکليف دے؟ ځکه خو هغه را مخکښې شو او تپوس ئې اوکړو، دغسې خلق قِسما قِسم طريقے اِستعمالوي- اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ (يعني د اعمالو دار و مدار په نِيّتونو دے)- (بُخاری ج۱ص۶حديث۱) بے ضرورته د چا په مخکښې د خپل تکليف ښکاره کولو په وجه د صبر منزِل د لاسه اُوځي- او دا ډير مشکل کار دے، ځکه چې که د چا نه څوک په زور موبائل واخلي يا ئې

جيب اُووهي نو هغه به په خوشحالۍ خوشحالۍ مَدَني مُذاکره کښې شرکت نه کوي بلکه هر کس ته به لګیا وي وائي به "زما نه چا د ټوپک په زور موبائل واخستو، دهمکیانې ئې راکولې، که جګړه مې کولے نو ويشلے به ئې ووم" دغسې بنده د خلقو همدردۍ حاصلوي او بعضې وخت خو مخامخ کس د چا د مصیبت په اوريدلو هُم هيڅ غور نه ګرَوِي او صرف دومره اُووائي: ښه، او روان شي- او بنده ځان سره شرمنده شي- بنده ته ولې وائے! د **الله** پاک په بارګاه کښې عرض او دُعا کول پکار دي، دُعا کول بے صبري نه ده- که د کور نه مو غلا اوشي، یا ورور اولګي یا بل څه نقصان اوشي، یا مو بچے یا مور و پلار مو بیمار شي نو بے ضرورته چا ته مه وائي، که د وئيلو ضرورت وي نو بیا ئې ضرور اُووائي، که سلو کسانو ته د وئیلو ضرورت وي نو سلو ته ئې اُووائي او که ضرروت نه وي نو يو کس ته هُم مه وائي- مَثَلًا که په کور کښې مو څوک وفات شي نو دا يو مصيبت دے او په بنده باندې د غم غر راپريوځي- نو دا داسې مصيبت دے چې خلقو ته وئيل ضروري دي ځکه چې خلق به راجمع کيږي، جنازه به کوي- نو دا صحيح صورت دے- خو په دې کښې هُم د ژړا فرياد او په داسې انداز کښې د غم ظاهرولو نه بچ کيدل ضروري دي چې هغې ته بے صبري وائي- اوښکې بهيدل بے صبري نه ده، ځکه چې هغه خو پخپله بهيږي، خپل داسې حالت نه دي جوړول پکار چې د هغې په وجه د غم اظهار کيږي، څنګه چې په ښځو کښې دا عادت ډير وي چې يواځې وي نو چپ به ناستې وي او چې څنګه ورله څوک ملاويدو له راشي ژړا به شروع کړي او هغه واقعه بيانول به شروع کړي- داسې اثرات په بعضو سړو کښې هُم وي، دا بے صبري ده- **الله** پاک دِ مونږ ته د صبر کوونکي اِمامِ حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خاطر په صحيح معنو کښې د صبر کولو توفيق رانصيب کړي- اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## آيا د سيلفي جوړولو په دوران کښې مړ کيدل خود کُشي ده؟

**سُوال**: څوک چې د سيلفي جوړولو د پاره اوچتو ځايونو ته اوخيژي او را اوغورزيږي مړ شي، نو آيا په هغه به د خود کُشۍ حُکم لګي؟

**جواب**: دا خلق قَصداً [يعني اِرادَتاً] ځان نه مړ کوي، ځکه به په دوئي د خود کشۍ حُکم نه لګي- البته دومره خبره ضرور ده چې د دوئي د پاره داسې کول شرعاً صحيح نه وو- په قرآنِ کريم کښې دي: ﴿وَلَا

تُلْقُوْا بِاَیْدِیْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ (پ۲: ۱۹۵) (او د خپله لاسه په هلاکت کښې مه پریوځئ)- داسې خلق د بهادرئ بلکه د بے وقوفئ په چکر کښې صرف د دې ښودلو د پاره ځان په خطره کښې واچوي چې "زه خومره هِمَّت والا یم، اوګورئ! ما څنګه سیلفي جوړه کړې ده" او بعضې وخت د مرګ خُلې له ورشي، څوک ریل ګاډے اُووهي، څوک د چت نه اوغورزیږي- څه موده مخکښې د هِند یو ویډیو وائرل شوي وه (یعني چلیدلې وه) یو مسلمان ځلمے د ازمرې سره د سَیلفي جوړولو په دوران کښې د ازمرې پنجرے ته اولویدو، ازمرې هغه په راښکلو راښکلو یوړو خو په دغه دوران کښې د هغه هلک هارټ فیل شوے وو- **اللّٰه** پاک دِ د هغه مغفرت اوکړي او خپل رحمتونه دِ پرې نازل کړي- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سیلفي ډیر خطرناک څیز دے، البته بعضې وخت خطرناکه نه هُم وي، خو بس د دې په وجه خلقو ته یو [فالتو] مصروفیت ملاؤ شوے دے- مرګ که لیکلے وي نو په بله څه بهانه به هُم راشي، داسې وخت کښې انسان هډو پوهه نه شي او څه داسې کار ترینه اوشي چې د مرګ خُلې ته لاړ شي- **اللّٰه** پاک دِ زمونږ د ټولو حفاظت اُوفرمائي-

## که هر څه په تقدیر کښې لِیک دي نو محنت ولې؟

**سُوال:** که په تقدیر کښې هر څیز لیکلے شوے دے نو زمونږ د پاره بیا محنت کول ولې ضروري دي؟

(علي رضا۔ د میسیج په ذریعه تپوس)

**جواب:** که په تقدیر کښې د سختئ څنئ د لاسه مرګ لیکلے شوے دے نو بیا ګرمې جامے ولې اغوندې!! که په قسمت کښې غلا لیکلې شوې ده نو بیا د دروازے بندولو څه ضرورت دے!! د روپو د سرو زرو د کالو د پټولو څه ضرورت دے!! دروازه بیرته پریږده، سامان اوباسه بهر په کوڅه کښې ئې پریږده! که په تقدیر کښې لیک وي نو غلا به شي ګنې نه به غلا کیږي بلکه څوک به ئې وِیني هُم نه- په ټولو کارونو کښې تاسو تدبیر کوئ، په تقدیر ئې نه پریږدئ خو په بعضو معاملاتو کښې ئې تقدیر ته پریږدئ، لکه څنګه چې بعضې بے پاکه خلق وائي: "یار که په تقدیر کښې مو جَنَّت لیکلے وي نو جَنَّت ته به لاړ شو ګنې دوزخ ته به لاړ شو" (مَعَاذَاللّٰه)- د تقدیر په باره کښې بحث کولو نه په حدیثِ پاک کښې حضرت صدیق اکبر او حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا هُم منع کړے شوي وو- (مُعْجَم کبیر،ج۲،ص۹۵،حدیث۱۴۲۳ مفهوماً) ځکه د تقدیر په باره کښې بحث کول نه دي پکار- زمونږ کار بس صرف دومره دے چې: "وَلَقَدْرِ خَیْرِهٖ

وشَرِّہٖ مِنَ اللہِ تعالٰی۔ يعني ښه او بد تقدير د **الله** له طرفه دے۔" مونږ ته د **الله** پاک په رِضا باندې راضي اوسيدل پکار دي۔ که په تقدير کښې بعضې څيزونه مُعَلَّق هُم وي۔ (بہارِ شریعت حصه ۱، ۱/۱۴ماخوذاً) مَثَلًا که په سکوټر لاړو نو ايکسيډنټ به ئې کيږي، که په سکوټر لاړ نه شو نو نه به کيږي۔ دې ته تقديرِ مُعَلَّق وائي۔ په دې کښې هُم **الله** پاک ته معلومه ده چې دا به په سکوټر ځي او که نه به ځي، خو د **الله** پاک ته عِلم کيدلو هغه په سکوټر تللو يا نه تللو باندې مجبوره نه کړو، مَثَلًا د دوائي په بوتل باندې Expiry date ليکلے شوے وي، کمپنۍ والؤ ته د تجربے نه معلومه وي چې دا دوائي د کوم وخته پورې په کار راتلے شي۔ خو د هغوئي له طرفه په هغې باندې د Expiry date ليکلو په وجه هغه دوائي په Expire کيدلو باندې مجبوره نه شي که کمپنۍ والا پرې نه وے ليکلے نو بيا به هُم هغه دوائي په هغه تاريخ Expire شوے وے لِهذا د ليکلو او نه ليکلو نه هيڅ فرق نه پريوځي۔ هُم دغسې په تقدير کښې هُم داسې نه دي چې **الله** پاک ليکلي دي ځکه بنده د [د هر کار] په کولو مجبوره دے، بلکه بنده به چې څنګه کوي **الله** پاک په خپل عِلم هُم هغسې اوليکل۔ (بہارِ شریعت ۱/۱۱حصه: مُلَخَّصاً) **الله** تعالٰی ته هر څه معلوم دي، د هغه نه يو څيز هُم پټ نه دے۔

## د ويرې لرې کولو روحاني علاج

**سُوال:** د شپې مې چې ناڅاپه سترګې اوغړيږي نو ډير يريږم، په دې صورت کښې څه کول پکار دي؟

(د ميسيج په ذريعه تپوس)

**جواب:** که داسې وي نو "يَارَءُوْفُ يَارَءُوْفُ" وائې، اِنْ شَآءَاللّٰه ويره به مو لرې شي۔

## د رښتياؤ عظمت

**سُوال:** د رښتياؤ مُتَعَلِّق څه اِرشاد کړئ، خلق رښتياؤ ته اَهَمِّيَّت نه ورکوي۔

**جواب:** [د اُردو] يوه جُمله ده "سانچ کو آنچ نہیں۔" [يعني رښتياؤ ته هيڅ نقصان نه شي رسيدلے]۔ [خو نن صبا جهالت دومره زيات شوے دے چې اوس خلق وائي چې "د دروغو نه بغير ګُزاره نه کيږي، که دروغ اُو نه وايو نو فلانکے فلانکے کار به اُونشي۔" حالانکه داسې خبره نه ده۔ د رښتيا وينا والا خلق [ښه د مزے] ژوند تيروي۔ د رښتيني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتيني غلامان چې اوس د هغوئي په مزراتو رنړاګانې

لګولے کيږي، چې د هغوئي عُرسونه مناويږي او هغوئي ته ايصالِ ثواب کيږي، هغوئي په دُنيا کښې د رښتيا وينا ژوند تير کړے دے، هُم دا وجه ده چې نن د هغوئي مزے دي- قرآنِ کريم کښې حُکم دے: ﴿كُونُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١١٩﴾﴾ (پ۱۱، التوبة: ۱۱۹) ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او رِښتينو سره شئ)- دا ډير غلط سوچ دے چې ”د رښتياؤ زمانه نه ده، يا د دروغو نه بغير ګُزاره نه کيږي“ در اصل ذهنونه خراب شوي دي ځکه داسې خبرې کيږي، ګني حقيقت دا دے چې په رښتياؤ کښې عَظَمت دے، په دروغو کښې هيڅ عَظَمت نشته بلکه تباهي او بربادي ده پکښې، ځکه هميشه رښتيا وئيل پکار دي- په حديثونو کښې د رښتياؤ فضيلتونه موجود دي- (بُخاری ج ۴ ص ۱۲۵ حديث ۶۰۹۴)

په کاروبار کښې دروغو وئيلو سره [بعضې خلقو ته] په ظاهره کښې داسې ښکاري چې ګټه مې اوکړه خو کيدے شي چې هُم دا ګټه ستا سکون واخلي- تاسو که د مالدارونو زړونه اُووِينئ نو تاسو به پکښې خوشحاله خلق کم اُووِينئ- دوئي ښکلي جامے اغوستي وي او ستاسو مخې ته ناست وي، خو د يو شمير خلقو زړونه دننه نه مات وي، د چا يو ټينشن وي د چا بل ټينشن وي- ضروري نه ده چې دوئي سره دِ دا هر څه د دروغو وئيلو په وجه شوي وي، خو د خبرې مطلب مې دا دے چې په دې دَور کښې د دروغو نه بغير ډير دولت جمع کول ډير مشکل دي- بله دا چې د تجارت د مسئلو نه هُم ناواقِفه وي په دې وجه هُم ګناهونو کښې اخته کيږي- که په دروغو وئيلو ئې مال خرڅ هُم شو خو په هغې کښې خير او بَرَکت نه وي- کله به په بيمارئ کښې لاړې شي، کله به ئې ډاکوان اوتبنتوي- [خو دا خبره ياده ساتئ چې] که چا سره داسې اوشو نو د دې مطلب دا نه دے چې د هغه مال حرام وو، زه يوه عامه خبره کووم، که په دروغو وئيلو څه مال را هُم شي خو په هغې کښې بَرَکت او سکون نه وي- کوم غريب سړے چې صبر او شکر کوونکے وي هغه به په سکون کښې وي، هغه په دنيا کښې هُم د سکون ژوند تيروي ځکه چې هغه له په فُټ بارئ باندې هُم خوب ورځي، او هغه ته نه د اغوا کيدو خطره وي او نه ورته د ډاکے پريوتلو ويره وي ځکه چې هغه سره دومره مال نه وي چې د هغې په وجه هغه څه خطره محسوس کړي- او داسې غريب به د حديثِ پاک مطابق د مالدارانو نه 500 کاله مخکښې جَنَّت ته ځي- (ترمِذِی، ج۴ ص۱۵۷، حديث۲۳۵۸) مالدار به ځکه حصار وي چې هغه به د خپل مال حساب هُم ورکوي او که مال د حرامو وي نو بيا به په

عذاب کښېږي هُم اخته کيږي، کوم غريب سړے چې کِيلے قيصے کوي يا د خلقو په مال نظر ساتي د هغه د پاره دا فضيلت نشته- (شرح صحيح بُخاری لابنِ بطال، ۱۰/۱۷۳ماخوذاً)

بهر حال که دروغ اُووائي او هغه وخت سره ځان خلاص هُم کړي خو بيا هُم د دروغژن سړي اعتماد ختم شي، په قلاره قلاره خلقو ته پته اولګي چې د ده د ژبې څه اعتبار نشته او بيا هغه په خلقو کښې بدنام شي- وروسته که بيا رښتيا هُم وائي خو خلق د هغه خبره دروغ ګڼړي- څنګه چې يو شپونکي به چيلئ څرولې، يو ځل هغه هسې د مستئ نه ځنګل کښې يو اوچت خټ ته اوختلو او چغې وهل ئې شروع کړې چې "ازمرے راغے ازمرے راغے-" د نزدے آبادئ والا خلقو ډانګونه او کودالئ او چې څه په لاس ورغلو ځان سره واخستل او ورمنډې ئې کړې، خو چې کله ور ورسيدل نو شپونکے ولاړ وو او خندل ئې- خبره لاړه تيره شوه- بيا يو ځل رښتيا ازمرے راغے- شپونکے خټ ته اوختو او چغې وهل ئې شروع کړې "ازمرے راغے ازمرے راغے" خلقو چې واوريدل نو هغوئي اُووئيل چې دروغ وائي د ده د خبرې څه يقين! وروسته چې بيا خلق په هغه ځائے تيريدل نو څه ګوري چې هغه ازمري مات کړے دے او د هغه چيلئ هُم تبتيدلي دي، يا ازمري د هغه چيلئ خوړلې دي او شپونکے ژوندے پاتې شوے وو او خلقو ته ئې اُووئيل چې تاسو ولې رانغلئ؟ خلقو اُووئيل چې مخکښې تا دروغ وئيلي وو، مونږ دا ګنړله چې ته به اوس هُم دروغ وائې- دغسې د هغه د دروغو په وجه د هغه نقصان اوشو- په دروغو کښې د دواړو جهانو نقصان دے او د دې [په آخرت کښې] قِسما قِسم عذابونه دي- (بُخاری ج۴، ص۱۲۵، حديث۶۰۹۴)

## د سر صدقه د څه څيز نه ورکول بهتر دي؟

**سُوال:** خلق د مختلفو څيزونو صدقه ورکوي، که د سر صدقه ورکول غواړي نو د څه څيز نه ورکول بهتر دي؟ (1)

1 ... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امير اهلسُنَّت له طرفه قائم شوے دے او جواب د امير اهلسُنَّت عطا شوي وينا ده. (شعبه ملفوظاتِ امير اهلسُنَّت)

**جواب:** كه د سر صدقه وركول غواړي نو د څاروي [يا د چرګ] صدقه دِ وركړے شي. مثلاً څوك په سفر روانيږي نو د هغه واپس ژوندي راتلو د پاره يا يو بيمار دے د هغه د صحت مند كيدو د پاره يوه چرګه وغيره [يا بل يو] حلال څاروے دِ ذبح كړے شي يا دِ ئې چا ته ژوندے وركړي چې دا ذبح كړئ. خو په دې كښې خطره دا ده چې كيدے شي هغه [سړے] ژوندے [چرګه يا څاروے] د ذبح كيدو په ځائے په چا خرڅ كړي. مثلاً لاروي فقير ته چرګه وركړي، اوس به ئې هغه پخوي چرته؟ ځكه به ئې هغه يوسي او خرڅه به ئې كړي، هم دا حال د چيلو هم دے، ځكه پكار ده چې پخپله ئې ذبح كړي يا دِ ئې يو قابلِ اعتماد كس ته وركړي چې هغه اووائي چې آو! مونږ به ئې ذبح كړو. دا يو بهتر صورت دے، باقي كه چا ته مو ژوندئ وركړه او هغه خرڅه كړه نو جائز دي او دې ته خيرات وائي. زما زيات كوشش وي چې د نفلي صدقے د پاره لفظِ ''خيرات'' اِستعمال كړم. په عربئ كښې ''خيرات'' د خير جمع ده. په اردو [پښتو وغيره] كښې د الله په لاره كښې څه څيز وركولو ته خيرات وائي. د صدقه معنٰى ډيره فراخه ده. مسلمان ته مُسكې كيدل هم صدقه ده. (ترمذي، ج3، ص384، حديث1963 ملتقطا)

## د ديني طبقے په دُنياوي طبقے باندې رشك كول څنګه دي؟

**سُوال:** بعضې وخت د ديني طبقے سره تَعَلُّق ساتونكي خلق چې د دنياوي خلقو ناسته ولاړه [يعني مالداري، سهولتونه] اُوويني نو زړه ئې ورته پسخيږي، په داسې صورت كښې څه كول پكار دي؟ [1]

**جواب:** كه يو عالِم يا حافِظ دا سوچ اوكړي چې ''ما عِلم حاصل كړے دے، د دې دومره دومره فضائل او مرتبه ده، خو زما اِمامت دے او تنخواه مې صرف دومره ده، او فلانكے سړے په سودي اداره كښې كار كوي، نه ئې ګيره پريښودې، نه ئې جامے اسلامي دي، نه عِلمِ دِين لري، او تنخواه ئې

[1]... دا سوال شعبه ملفوظاتِ امير اهلسُنَّت له طرفه قائم شوے دے او جواب د امير اهلسُنَّت عطا شوي وينا ده.

دومره ډيره ده.“ او بيا څوک هغه حافِظ صاحب يا عالِم صاحِب ته اُووائي چې ”تيك ده، تاسو ته به غټه نوکري درکړو، خو شرط دا دے چې ستاسو نه به عِلمِ دين هير کړے شي، حِفظِ قرآن به درنه هير کړے شي، بيا به تاسو حافظ پاتې نه ئې، بيا به تاسو حضرت مولانا، دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه پاتې نه ئې، بلکه خلق به درته مِسترِ وائي. نو آيا دا تاسو ته منظوره ده؟“ نو ښکاره خبره ده هغه چې دا ټولې خبرې واوري نو انکار به اوکړي چې ”نه، نه، دا بے وقوفي ده.“ نو اوګورئ! د عِلمِ دين او حِفظِ قرآن قدر دے، اصل مالدار خو تاسو ئې. دُنياوي ډِګرئ چې د چا سره دي هغه به ئې په قبر کښې پکار نه راځي، او ستاسو عِلمِ دين او د حِفظِ قرآن ډِګري به په قبر و آخرت کښې پکار راځي. تاسو ته خپله د غنم دانه وړوکي ښکاري ځکه داسې خبرې کوئ، حالانکه د دُنياوي خلقو په لاسو کښې چې تاسو کومه ښکلا وِينئ، هغه هسې پونړقئ ده، هغه خو به هسې لاس لګولو سره اُوچوي، او ستاسو د غنم دا وړوکي دانه به اِنۡ شَآءَاللّٰه ستاسو ځان او اِيمان دواړه بچ ساتي. د غنم دا دانه ستاسو سرمايه ده. که دا هم نه وے نو بعضې وخت فَقر [يعني غريبي]، انسان کفر ته رَسَوي.

## کار پورا کيدو کښې ولې پاتې کيږي؟

**سُوال:** يو کار پورا کيدو والا وي چې پاتې شي د دې څه وجه وي؟ (د ميسيج په ذريعه تپوس)

**جواب:** اصل وجه خو اللّٰه پاك ته معلومه ده. ډير ځله داسې کيږي چې کار کيدو والا وي ځکه پاتې شي چې د هغه کار په نه کيدو کښې د هغه خير وي. مثلاً سکوټر ئې د جوړولو د پاره ورکړو او د ډير ضروري کار د پاره چرته تلل پيښ وو، چې کله د جوړولو والا خوا ته لاړو نو هغه اووئيل: ”صبا به ميلاويږي، يوه پُرزه را ته ميلاو نه شوه، صبا به غټ مارکيټ ته ځم د هغه ځائے نه به ئې راوړم“، په دې خبره بنده ته ډيره غُصَّه ورشي او ځان سره په غُصَّه کښې بنګيږي او لاړ شي بس ته اوخيژي [هغه خپل کار لټولو د پاره]، اوس په دې کښې د بهترئ صورت دا دے چې کيدے شي ”تقديرِ مُعَلَّق“ دا وي چې که دا په سکوټر تلے وے نو ټرك به وهلے او سر به ئې فُټ بارئ سره لګيدو او په دې وجه به يا کومه [يعني مسلسل بے هوشئ] کښې تلو يا به مړ کيدو. دا د پوهه کولو د پاره يو مثال

دے چې مونږ ته نه ده معلومه چې زمونږ په حق کښې څه بهتر دي؟ ځکه د **اللّٰه** په رضا راضي اوسئ، **اللّٰه** پاك چې څه کوي صحيح کوي، په دې باره کښې د **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه** کتاب "**عُيُونُ الحکايَات**" کښې د خر، بانګي او سپي يو اوګږد حکايت موجود دے. [هغه حِکايت دا دے چې: د **اللّٰه** پاک يو نيك بنده به [د خپل بال بچو سره] د يو ځنګل په يو کلي کښې اوسيدلو، هغه سره يو چرګ [يعني بانګي]، يو خر او يو سپے وو. چرګ به د سحر لمانځه ته راپاڅولو، په خر به ئې اوبه او نور څيزونه راوړل او سپي به د هغه د کور او د نور سامان څوکئ کوله، يوه ورځ چرګ ګيدړې اوخوړو، د کور کسان په دې نقصان باندې خفه شو خو هغه نيك بنده صبر وکړو او وئې وئيل: "**اللّٰه** پاک چې څه کوي ښه کوي." څه ورځې پس يو شرمخ خر مات کړو، د کور کسان ډير خفه شو خو هغه نيك سړي هم دا اووئيل: "**اللّٰه** پاک چې څه کوي ښه کوي." بيا څه موده پس سپے بيمار شو او مړ شو، په دې باندې هم هغه هم هُغه خبره اوکړه چې: "**اللّٰه** پاک چې څه کوي ښه کوي." څه ورځې پس ناڅاپه دُښمنانو د شپے په هغه کلي حمله اوکړه او د څاروو او ځناورو د اوازونو په اوريدو ئې کورونه معلوم کړل او د مال او سامان وړلو سره سره ئې د کورونو ټول خلق هم اونيول او ځان سره ئې بوتلل، د هغه نيك سړي په کور کښې څه څاروے يا ځناور د سره وو نه چې اواز ئې وِيستلے وے ځکه دُښمنانو په تِياره کښې د هغه کور د طرف نه هډو خبر هم نه شو، او دغسې هغه د دې ناڅاپه آفت نه بچ شو او دغسې د صبر سره سره د هغه دا يقين نور هم مضبوط شو چې: "**اللّٰه** پاک چې څه کوي ښه کوي." (عُيُونُ الحِکايات ص مُلَخَّصاً)] نو که يو کار نه کيږي نو څه خبره نه ده، نن نه نو صبا به اوشي. کيدے شي د دې کار په نه کيدو کښې حکمت وي. مثلاً که مونږه مالدار نه جوړيږو نو کيدے شي چې دا زمونږ د پاره ښه وي، هسې نه چې مالدار شو نو بيا ناشکره بندګان جوړ شو، دغسې چې مال وي نو د ګناهونو اسباب ډير په لاس راځي. که مال نه وي نو د ګناهونو څيز اخستل هم مشکل شي او داسې انسان د ګناه نه بچ شي. دا هم کيدے شي چې د مالدار کيدو نه پس بيا غريبانو ته سپك کتل شروع کړو او په تَکَبُّر کښې اخته شو. نو بيا خو چې مال نه وي نو ښه ده، ځکه چې بنده به د تَکَبُّر د مُصيبت نه خلاص وي، زمونږ سره که د کوم څيز هُم کمے دے په دې کمي باندې د **اللّٰه** شُکر ادا کول پکار دي، کيدے شي چې د دې کمي په وجه مونږه د ازميښت نه **محفوظه** يو. ښائست او ښکلا هم يو ازميښت دے، که ښائست نه وي نو بعضې وخت انسان زړه خوري او داسې په زنانؤ کښې زيات وي. خو داسې هم کيږي چې بعضې جينکئ د خپل ښائست په وجه اغوا کيږي يا په مُصيبت کښې اخته کيږي، که څوك ښائسته نه وي نو دا هم د هغه د پاره د فائدے يو صورت کيدے شي. **اللّٰه** پاك

چې ئې په کوم حال ساتي، بنده له شُکر ادا کول پکار دي چې يا **الله**! ستا په حِکمَت زه نه شم پوهيدلے. بس دا دُعا کوئ: **اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُكَ الۡمُعَافَاةَ فِی الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ** يعنې يا **الله**! زه په دُنيا او آخرت کښې ستا نه د عافيت يعنې سلامتئ سوال کووم.

## د آفتونو فضائل او 20 روحاني علاجونه

**درې فرامينِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: (1) مسلمان ته چې کوم تکليف، بيماري، درد، پريشاني او غم اورسي تر دې چې که د هغه [د بدن په څه ځائے] کښې ازغے لا ړ شي، **الله** پاك د هغې په سبب د هغه ګناهونه ورانوي [يعني معاف کوي]. (بُخاری، ج4، ص3، حدیث:5641) (2) د قيامت په ورځ به چې کله مُصيبت وهلو خلقو ته ثواب ورکولے کيږي نو عافيت [يعني خير سره] اوسيدونکي خلق به تَمَنَّا کوي چې کاش! په دُنيا کښې زمونږ څرمنې په قينچو کټ کړے شوے وے. (ترمذی، ج4، ص180، حدیث:2410) (3) څوك چې يوه شپه بيمار وو، صبر ئې اوکړو او د **الله** پاك په رضا باندې راضي پاتې شو نو هغه د ګناهونو نه داسې اووتو لکه د هغه مور چې هغه نن ځيګولے وي. (نوادِرُالاُصُول، ج3، ص147)

جے سوہنا میرے دُکھ وِچ راضی | تے میں سُکھ نُوں چُلھے پاواں

☆ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت اُمّ سائب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا خوا ته تشريف يوړلو، اوئې فرمائيل: په تا څه شوي دي چې رپيږې؟ هغې عرض اوکړو: تبه مې ده، **الله** پاك دِ په دې کښې برکت نه اچوي. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: تبې ته بده مه وايه ځکه چې دا د انسان خطاګانې داسې لرې کوي څنګه چې بټئ د اوسپنې خِيرے لرې کوي. (مسلم، حدیث:2575)

☆ حضرت عطا بِن ابو رَباح رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې حضرت عبدُ الله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا ما ته اوفرمائيل: آيا زه تا ته د جَنَّت والؤ نه يوه زنانه اُونه ښائم؟ ما عرض اوکړو: ضرور ئې اوښائې. اوئې فرمائيل: دا حبشي زنانه. چې کله دا د نبی کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوه

نو عرض ئې اوكړو چې: په ما مِرګي راځي چې د هغې په وجه زما ستر يعني پرده ښكاره شي تاسو د **الله** پاك نه زما د پاره دُعا اوكړئ. ارشاد اوشو: كه ته غواړې نو صبر اوكړه او ستا د پاره جَنَّت دے او كه غواړې نو چې زه د **الله** پاك نه ستا د پاره دُعا اوكړم چې **هغه** تا ته عافيت درعطا كړي. نو هغې عرض اوكړو: زه به صبر كووم، بيا ئې عرض اوكړو زما پرده ښكاره كيږي، د **الله** پاك نه دُعا اوغواړئ چې زما پرده نه ښكاره كيږي، بيا خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې د پاره دُعا اوكړه.(بُخارى،ج4، ص6، حديث:5652)

☆ د حضرت ضحاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قول دے: څوك چې په هرو څلوېښتو شپو كښې يو ځل هم په څه آفت يا فِكر و پرېشانئ كښې اخته نه شي د هغه د پاره د **الله** پاك سره هيڅ خير نشته.(مُكَاشَفَةُ القُلوب، ص15)

زما بيمارو بخت بيدارو! تاسو اوليدل چې! بيماري او آفت څومره غټ نِعمتونه دي چې د دې په بركت **الله** پاك د بنده نه ګناهونه لرې كوي او درجات ئې اوچتوي. بيشكه كه مرض وي او كه زخم، كه ذِهني ټېنشن وي او كه ويره، كه خوب كم درځي يا نفسياتي مرضونه وي، كه د اولاد په وجه غم وي او كه د بے اولادئ غم وي، كه د رزق تنګي وي يا كه د قرض بوج وي، الغرض مسلمان ته په تكليف باندې ثواب حاصليږي، په هر صورت كښې د صبر نه كار اخلئ ځكه چې د بے صبرئ په وجه تكليف ختميږي نه بلكه اُلټه د بنده نقصان كيږي. ياد ساتئ! د ټولو نه خطرناكه بيماري د كفر بيماري ده او د ګناهونو بيماري هم سخته خطرناكه ده. آفت، مُصيبت او بيماري او پرېشاني د خلقو نه پټول د ثواب كار دے. **فرمانِ مصطفٰى** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "چې د چا په مال يا بدن كښې مُصيبت راغلو بيا ئې هغه پټ اوساتو او خلقو ته ئې ګيله اونكړه نو په **الله** پاك باندې حق دےچې د هغه بخښنه اوكړي." (معجم اوسط، ج، ص214، حديث: 737)

☆ حضرت شیخ سعدي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: یو ځل د دریاب په غاړه یو بُزُرګ تشریف فرما وو، د هغه ښپه مبارکه پړانګ خوړلې وه او زخم ئې ډیر زیات خطرناك صورت اختیار کړے وو، خلق راجمع شوي وو او په هغوئي ئې رحم کولو، خو هغوئي فرمائیل: هیڅ د خطرے خبره نه ده، دا خو د شُکر مقام دے چې ما ته جسماني مرض میلاؤ دے، که زه د ګناهونو په مرض کښې اخته شوے وے نو څه به مې کولے! (ګلستان سعدي ص60)

**(1) د روزئ د پاره**: **یَا مُسَبِّبَ الۡاَسۡبَاب** 500 بار، اوَّل آخِر 11، 11 ځله دُرُود شریف، د ماسخُتن د لمَانځه نه پس په اوداسه کښې سر تور سر په اوداسه کښې داسې ځائے کښې ادا کړئ چې د سر او آسمان په مینځ کښې څه خیز [**چَت**، ونه وغیره] پرده نه وي، تر دې چې په سر مو ټوپۍ هم نه وي. اسلامي خویندې دِ ئې داسې ځائے کښې ادا کړي چې د غیر محرم نظر پرې نه پریوځي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تنګي به لرې شي. **(2) یَا اللّٰهُ** 101 ځله په کاغذ اولیکئ او تعویذ تړینه جوړ کړئ او په مټ ئې اوتړئ، په جائز کار روزګار او حلاله نوکرئ کښې به مو زړه اولګي. **(3)** 7 ورځو پورې د هر لمَانځه نه پس **یَا رَزَّاقُ یَا رَحۡمٰنُ یَا رَحِیۡمُ یَا سَلَامُ** 112 ځله اولولئ او دُعا اوکړئ اِنۡ شَآءَاللّٰه بیمارئ، تنګدستئ او غریبئ نه به خلاصے حاصل شي. **(4) د غلا نه حفاظت**: **یَا جَلِیۡلُ** لس ځله اولولئ او خپل مال و اسباب او روپئ وغیره پرې دَم کړئ . اِنۡ شَآءَاللّٰه د غلا نه به محفوظه شي. **(5) د واده د پاره**: د کومو جینکو چې واده نه کیږي، یا ئې کویژدن ماتیږي نو هغوئي دِ د سحر د لمَانځه نه پس **یَا ذَالۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَام** 312 ځله لولي او د نیکې رشتے میلاویدو دُعا دِ کوي، اِنۡ شَآءَاللّٰه زر به واده شي او خاوند به ورته نیك نصیب شي. **(6)** بے واده ځلمے دِ **یَا حَیُّ یَا قَیُّوۡم** 143 ځله اولیکي او تعویذ دِ تړینه جوړ کړي، په خپل

مټ دِ ئې اوتړي، واده به ئې زر اوشي او کور به ئې هم ښه چليږي. **(7) د نارينه اولاد د پاره:** **يَا مُتَكَبِّرُ** لس ځله، خپلې بي بي سره د ”کور والي“ نه مخکښې لوستونکے به د نيك ځوئ پلار جوړ شي“ **(8)** حامِله زنانه دِ د شهادت ګوته د خپل نوم نه چاپيره تاوهي او **يَا مَتِيْنُ** دِ 70 ځله لولي. دا عمل دِ 40 ورځو پورې جاري ساتي، د **الله** په فضل و کرم سره به ورته ځوئ عطا شي. په دې عمل کښې د هر مرض علاج دے. که هر يو مريض دا عمل اوکړي نو **اِنْ شَآءَاللّٰه** شِفا به حاصله کړي. (د نوم نه د کپړے لرې کولو ضرورت نشته، په کپړا د پاسه دا عمل کول دي) **(9)** د حامِله په خيټه دِ خاوند لاس کيږدي داسې دِ اووائي: **اِنْ كَانَ ذَكَرًا فَقَدْ سَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا** **ترجمه:** که هلك وي نو ما د ده نوم **مُحَمَّد** کيښودو. (**اِنْ شَآءَاللّٰه** هلك به پيدا شي. که د وئيلو په وخت کښې ئې د عربي عبارت معنٰی په ذِهن کښې وي نو د ترجمے د الفاظو وئيلو ضرورت نشته کنې د ترجمے الفاظ دِ هم اووائي)

**(10) د دُښمن نه د حفاظت د پاره:** **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ** په ګرځيدو راګرځيدو، په ناسته ولاړه په کثرت لوستلو سره به **اِنْ شَآءَاللّٰه** د دُښمن نه حفاظت کيږي. **(11) د ورك شوي انسان وغيره د ميلاويدو او د هر حاجت د پاره:** د الله پاك په رحمت باندې مضبوط يقين ساتلو سره په ګرځيدو راګرځيدو، په اوداسه کښې او بے اوداسه د زيات نه زيات شمير کښې **يَا رَبِّ مُوْسٰى يَا رَبِّ كَلِيْمُ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ** لولئ، په هم دې دوران کښې يو څو ځله دُرود شريف هم لولئ. ورك شوے انسان، سره زر، مال، ګاډے وغيره به **اِنْ شَآءَاللّٰه** ميلاؤ شي. بلکه د نورو حاجتونو د پاره هم دا عمل فائده مند دے. **(12) د اثراتو روحاني علاج:** **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ** 41 ځله اوليکئ (يا ئې په بل چا اوليکئ) په پلاسټك کښې ئې بند کړئ، په

خرمن يا ريګزين يا کپړا کښې ئې اوګنډئ، په مټ ئې اوتړئ يا ئې په غاړه کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰه اثرات به ختم شي. **(13) د جادو روحاني علاج:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 101 ځله اولولئ او په چا چې جادو شوے وي، هغه پرې دَم کړئ يا دا ورله اوليکئ او په اوبو کښې ئې پرېږ اوڅښئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰه د جادو اثر به ختم شي **(14) که خوب نه درځي نو:** که خوب نه درځي نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 11 ځله اولولئ خپل ځان پرې دَم کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه خوب به درشي. **(15) د کينسر روحاني علاج:** اوّل آخر 11 ځله دُرُودِ ابراهيمي او په مينځ کښې سُوْرَه مَرْيَمْ اولولئ، اوبه پرې دَم کړئ. ضرورتاً نورې اوبه پکښې ګډوئ، مريض دِ هغه اوبه ټوله ورځ څښي، دا عمل دِ 40 ورځو پورې بے ناغه اوکړي، اِنْ شَآءَ اللّٰه شِفا به ورته حاصله شي. (بل کس ئې که اولولي نو هم اوبه پرې دمولے شي) **(16) د تبې روحاني علاج:** يَا غَفُوْرُ په کاغذ باندې 3 ځله اوليکئ (يا ئې په بل چا اوليکئ) په پلاسټك کښې ئې بند کړئ په خرمن يا ريګزين يا کپړا کښې ئې اوګنډئ، په غاړه ئې کړئ يا ئې په مټ اوتړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د هر قسمه تبې نه به نجات حاصل شي. **(17) د هيپاټائټس روحاني علاج:** هر ځل د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره ”سُوْرَه قُرَيْش“ 21 ځله اولولئ (يا بل چا ته اووائې چې اولولي ئې) آبِ زم زم يا هغه اوبه چې د آبِ زم زم يو څو څاڅکي پکښې شامل وي، هغه پرې دَم کړئ، او هره ورځ دِ ئې سحر، غرمه او ماښام څښي. اِنْ شَآءَ اللّٰه په 40 ورځو کښې دننه دننه به شفا اومومي. (صرف يو ځل دَم کړې اوبه کافي دي د ضرورت مطابق دِ پکښې نورې اوبه ګډوي) **(18) د ترېخې او مثانے د کانړي روحاني علاج:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 46 ځله په ساده کاغذ باندې اوليکئ، په اوبو کښې ښنبلو سره به د ترېخې او مثانے کانړي

چوري چوري شي او اوځي به (د علاج ميعاد: د شِفا موندلو پورې) **(19) دزړه او د سينے د بيمارانو روحاني علاج:** لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 75 ځله اولولئ د کوم ماشوم په زړه کښې چې سُورے وي د هغه او د ګهبراهټ [ويرې] والا کس او د زړه او د سينې د ټولو بيمارانو سينه پرې دَم کړئ، د الله په فضل فائده مند دے. **(20) دهر قِسمه مريض روحاني علاج:** **يَا مُعِيْدُ** دائمي مريض دِ ئې هر وخت لولي، **الله** پاك به ورته صحت عطا کړي.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نیک او لـمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لـمانځه نه پس ستاسو په ښاړ کښې کیدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❀ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د **"فِکرِ مَدینه"** په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښاړ ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي"** اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پاره **"مَدَني قافلو"** کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ الـمدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com